۲۵۵ پوښتنې او ځوابونه

د ماشومانو لپاره

# لنډ نبوي سیرت



Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: +93779815770

قاري قدرت الله تائب

CamScanner

# د ماشومانو لپاره لنډ

# نبوي سيرت

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: +93779815770

ترتيب

قاري قدرت الله تائب

CamScanner

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: +93779815770

بسم الله الرحمن الرحيم

باور خپرندویه ټولنه

د کتاب ځانګړنې :

د کتاب نوم :: د ماشومانو لپاره لنډ نبوي سیرت
ترتیب :: قاري قدرت الله تائب
کمپوز :: مجیب الله غریب دوست
خپرندوی :: باور خپرندویه ټولنه
چاپ کال :: 1397هـ ش
د خپرونو لړ :: اووه څلویښتم (47)
چاپ شمیر :: ۱۱۰۰ ټوکه

د چاپ حقوق له باور خپرندوی ټولنې سره خوندي دي

باور کتاب پلورنځی، لنډیني پور، اسحق زي مارکېټ، بزازی څلورلارې، جلال اباد

اړیکه: 077-2702004 , 078-7730005 , 079-5353610

CamScanner

## د رسول الله صلی الله علیه وسلم نسب او زیږېدنه

۱: په سیرت کې د څه شي نه بحث کېږي؟

**ځواب:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ژوند څخه.

۲: سیرت د کوم ځای نه سرچینه اخلي؟

**ځواب:** قرآن کریم، صحیح نبوی احادیث او د صحابه وو له اثارو څخه.

۳: زمونږ د پیغمبر سیرت زده کول څه حکم لري؟

**ځواب:** فرض عین دی.

۵: زمونږ پیغمبر څه نومیږی؟

**ځواب:** محمد صلی الله علیه وسلم.

٦: زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د پلار نوم څه دی؟

**ځواب:** عبدالله.

۷: زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د مور نوم څه دی؟

**ځواب:** بي بي آمنه.

۸: زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د نیکه نوم څه دی؟

**ځواب:** عبدالمطلب.

۹: زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم چېرته پیدا شوی؟

**ځواب:** په مکه مکرمه کې.

CamScanner

۱۰: په کومه ورځ زیږېدلی؟

**ځواب:** د دوشنبې په ورځ، سهار.

۱۱: په کومه میاشت او په کومه نېټه زیږېدلی؟

**ځواب:** د ربیع الاول د میاشتې په نهمه او یا دولسمه نېټه.

۱۲: په کوم کال کې زیږېدلی؟

**ځواب:** په(۵۷۱) میلادي کال د اپریل میاشتې په شلمه نېټه.

۱۳: کله چې پیدا شو، نو مور یې لومړی چا ته زیری ولېږه؟

**ځواب:** نیکه ته یې (عبدالمطلب).

۱۴: هغه (عبدالمطلب) بیا څه وکړل؟

**ځواب:** خان سره یې کعبې ته ویوړ او هلته یې د (محمد) نوم ورباندې کېښود.

۱۵: د محمد معنی څه ده؟

**ځواب:** ډېر ستایل شوی.

۱٦: ولې یې دا نوم ورباندې کېښود؟

**ځواب:** چې ټول خلك یی واوري، صفت او ستاینه یې وکړي.

۱۷: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته لومړی چا شېدې ورکړې؟

**ځواب**: بي بي آمنې.

۱۸: دویم چا شېدې ورکړې؟

**ځواب**: د ابولهب وینځې ثویبې.

۱۹: دریم چا شېدې ورکړې؟

**ځواب**: بي بي حلیمې رضی الله عنها.

۲۰: د رسول الله صلی الله علیه وسلم پلار څه وخت وفات شو؟

**ځواب**: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پیدایښت نه شپږ میاشتې وړاندې.

۲۱: رسول الله صلی الله علیه وسلم د کومې قبیلې پورې منسوب دی؟

**ځواب**: د قریشو قبیلې پورې.

۲۲: د کومې کورنۍ پورې منسوب دی؟

**ځواب**: د بني هاشمو کورنۍ پورې.

۲۳: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نسب سلسله.

**ځواب**: محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف بن قصی بن کلاب بن مرة بن کعب بن لؤی بن

غالب بن فهر چې پدې حساب يې سلسله اسماعيل او ابراهيم عليهما السلام ته رسيږي.

۲۴: رسول الله صلی الله علیه وسلم د پيدايښت نه وروسته چېرته ويوړل شو؟

**ځواب:** بنو سعد بن بكر قوم ته.

۲۵: هلته يې د څه لپاره ويوړ؟

**ځواب:** په عربو کی دا رواج وو چې واړه ماشومان به يې کليو او بانډو ته وړل ترڅو د ناروغيو لرى، په ازاده فضا کې ژوند وکړي او فصيحه عربي ژبه زده کړي.

۲۶: په بنو سعد کې له چا سره وو؟

**ځواب:** د بي بي حليمې سعدې سره.

۲۷: څومره وخت د بي بي حليمې سره وو؟

**ځواب:** څلورکاله.

۲۸: د رسول الله صلی الله علیه وسلم له امله په بي بي حليمې کوم برکتونه راغلل؟

**ځواب:** په کومه خره چې مکې ته راغلې وه ډېره کمزورې وه خو چې بېرته تلله، د ټول کاروانو نه مخکې روانه وه، د بي بي حليمې په سينو کې شېده راپيدا شو، د اوښې غولانځه يې هم د شېدو ډکه شوه.

CS CamScanner

**۲۹: ايا رسول الله صلى الله عليه وسلم نور سكني ورونه او خويندې لرل؟**

**ځواب:** نه.

**۳۱: ايا د رسول الله صلى الله عليه وسلم ماماگان وو؟**

**ځواب:** نه.

**۳۲: د رسول الله صلى الله عليه وسلم رضاعي ورونه څو وو؟**

**ځواب:** پنځه وو.

**۳۳: د رضاعې ورونو نومونه يې څه وو؟**

**ځواب:** حمزه بن عبدالمطلب، عبدالله د حليمې ځوی، مسروع د ثويبې ځوی، ابوسفيان بن حارث بن عبدالمطلب، ابوسلمى بن عبدالاسدمخزومي دثويبې رضاعي ځوی.

**۳۴: د رسول الله صلى الله عليه وسلم څو ترونه وو؟**

**ځواب:** لس ترونه .

**۳۵: د ترونو نومونه يې کوم وو؟**

**ځواب:** حارث، زبير، ابوطالب، ابولهب، حمزه، غيداق، مقوم، صفار، عباس، قثم.

**۳۶: د رسول الله صلى الله عليه وسلم کوم ترونه مسلمانان شوي وو؟**

**ځواب:** عباس او حمزه.

CamScanner

۳۷: د رسول الله صلی الله علیه وسلم څو ترورګانې وې؟

ځواب: شپږ ترورګانې.

۳۸: نومونه يې څه وو؟

ځواب: صفيه، ام الحکيم چې په بيضا مشهوره وه، برة، عاتکه، اروى، اميمه.

۳۹: د رسول الله صلی الله علیه وسلم رضاعي خورڅه نومېده؟

ځواب: خذافه بنت حارث[شيما]باندې مشهوره وه.

۴۰: هغه ښځه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت يې کاوه څه نومېده؟

ځواب: بي بي ام ايمن رضی الله عنها.

۴۱: رسول الله صلی الله علیه وسلم څو کلن وو چې وزې يې څرولې.

ځواب: درې کلن وو.

۴۲: د رسول الله صلی الله علیه وسلم سينه لومړي ځل په څو کلنۍ کې وخيرل شوه؟

ځواب: څلور کلنۍ کې.

CS CamScanner

۴۳: رسول الله صلی الله علیه وسلم چی د بي بي حلیمې سره وو کومه پېښه وشوه؟

**ځواب:** د شق الصدر یعنې د سینې څیرل یې او د جبرائیل علیه السلام په واسطه یې زړه په زم زم اوبو وینځل.

۴۴: لدې پېښې وروسته څه وشول؟

**ځواب:** بي بي حلیمه په رسول الله صلی الله علیه وسلم وویرېده او هغه یې په مکه کې په خپلې مور وسپاره.

۴۵: د رسول الله صلی الله علیه وسلم سینه په ټول عمر کې څو ځلې څیرې شوې؟

**ځواب:** څلور ځلې، ۱: په څلورکلنۍ کې، ۲: په لس کلنۍ کې، ۳: د بعثت په وخت کې، ۴: د معراج په شپه.

۴۶: ایا رسول الله صلی الله علیه وسلم به، بي بي حلیمې کله کله مکې ته راوسته؟

**ځواب:** هو، په شپږو میاشتو کې به یې یو ځلې د مور او کورنۍ لیدو ته راوسته.

۴۷: رسول الله صلی الله علیه وسلم د مور د وفات په وخت کې څو کلن وو؟

**ځواب:** شپږ کلن.

CS CamScanner

۴۸: د رسول الله صلی الله علیه وسلم مور بي بي چېرته دفن شوه؟

**ځواب:** د ابواء په ځای کې چې مدينې منورې سره نږدې دی ، وفات او هم همدلته دفن شوه.

۴۹: د مور له وفات څخه يې وروسته سرپرستي چا پر غاړه واخيسته؟

**ځواب:** خپل نيکه عبدالمطلب.

۵۰: رسول الله صلی الله علیه وسلم څو کلن وو چې نيکه يې وفات شو؟

**ځواب:** اته کاله ، دوه مياشتو او لس ورځو وو.

۵۱: د عبدالمطلب له وفات څخه وروسته يې پالنه چا پر غاړه واخيسته؟

**ځواب:** خپل سکه تره ابوطالب.

۵۲: رسول الله صلی الله علیه وسلم لومړی سفر ابوطالب سره په څو کلنی کې وکړ؟

**ځواب:** دولس کلنی کې.

۵۳: په دغه سفر کې چې د کوم راهب سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم ليدنه وشوه څه نوميده؟

**ځواب:** خپل نوم يې جرجبيس وو ، خو په بحيرا مشهور وو.

CamScanner

۵۴: ابو طالب ته بحيرا راهب څه وويل؟

**ځواب:** دا ماشوم له ټول بشر څخه غوره او الله تعالی ټول مخلوق ته د رحمت په توګه رالېږلی.

۵۵: بيا يې کومه لارښوونه ورته وکړه؟

**ځواب:** ورته يې وويل: هسې نه چې يهوديان ورته څه زيان ونه رسوي شام ته يې له ځان سره مه وړه او بيرته يې مکې ته ولېږه.

۵۶: رسول الله صلی الله عليه وسلم له بعثت څخه مخکې دلومړي ځل لپاره په کوم جنګ کې ګډون وکړ؟

**ځواب:** د فجار په جنګ کې.

۵۷: په دغه جنګ کې رسول الله صلی الله عليه وسلم څوکلن وو؟

**ځواب:** شل کلن وو.

۵۸: رسول الله صلی الله عليه وسلم پدې جنګ کې د چا سره او ولې ګډون وکړ؟

**ځواب:** د خپلو ترونو سره او د دې لپاره يې ګډون وکړ چې جنګي ترينګ واخلي.

۵۹: په دغه جنګ کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم دنده څه وه؟

**ځواب:** خپلو ترونو ته به يې غشي تيارول.

CamScanner

۶۰: رسول الله صلی الله علیه د بعثت نه مخکې په کوم ترون کې برخه اخیستې وه؟

ځواب: د حلف الفضول ترون کې.

۶۱: دا ترون د څه لپاره وو؟

ځواب: دې کې ویل شوي وو، هغه څوک چې په مکه مکرمه کې اوسېږي هغه که د مکې اصلي اوسېدونکی وي او که فرعي، دوی به یې له حقوقو څخه په کلکه دفاع کوي.

۶۲: رسول الله صلی الله علیه وسلم له بعثت څخه وروسته د دې ترون په هکله څه وویل؟

ځواب: فرمایل به یې: زه هغه نومیالي ترون ته حاضر شوی وم، چې ماته له سرو اوښانو زیات ارزښتناک وو، او که د اسلام په دوره کې ورته بلل شوی وای، هم به مې منلی وی.

۶۳: تر پیغمبری مخکې رسول الله صلی الله علیه وسلم څه کار کاوه؟

ځواب: د مکې د خلکو مېږې به یې په مزدوری باندې څرولې او وروسته یې تجارت کاوه.

۶۴: رسول الله صلی الله علیه وسلم کله شام ته سفر وکړ؟

ځواب: کله چې د پنځه ویشت کالو شو.

٦٥: د دې سفر هدف څه وو؟

**ځواب:** د مکې د يوې شتمنې ميرمنې بي بي خديجې رضی الله عنها تجارتي مالونه يې شام ته په مزدوری باندې يوړل.

٦٦: په دی سفر کې څه وشول؟

**ځواب:** د (نسطورا) په نوم يو يهودي راهب سره يې ليدنه وشوه، چې هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د پيغمبرۍ وړاندوينه وکړه.

٦٧: په دغه سفر کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم ملګرتيا چا کوله؟

**ځواب:** د بې بې خديجې رضی الله عنها غلام ميسره.

٦٨: ميسره چې له دې سفر بيرته راغی، نو خديجې رضی الله عنها ته يې څه وويل؟

**ځواب:** د رسول الله صلی الله عليه وسلم د اخلاقو ، لوړو کړنو، روغ فکر ، ريښتينو خبرو او باوري راکړې ورکړې په اړه يې د خپلو سترګو ليدلې حال بيان کړ.

٦٩: دغې خبرو په خديجې رضی الله عنها باندې څه تاثير وکړ؟

**ځواب:** رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د واده پريکړه يې وکړه.

CS CamScanner

۷۰: د خديجې رضی الله عنها هغه ملګرې څه نوميده، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې د خديجې رضی الله عنها پيغام د واده په باره کې رسولی وو؟

**ځواب:** هغه نفيسه بنت منية نوميده.

۷۱: د شام له سفر څخه څو مياشتې وروسته رسول الله صلی الله عليه وسلم بي بي خديجې رضی الله عنها سره واده وکړ؟

**ځواب:** دوه مياشتې وروسته.

۷۲: په دغه وخت کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم عمر څو کاله وو؟

**ځواب:** پنځه ويشت کاله.

۷۳: د بي بي خديجې رضی الله عنها عمر څو کاله وو؟

ځواب: څلوېښت کاله.

۷۴: رسول الله صلی الله عليه وسلم په مهر کې خديجې رضی الله عنها ته څه ورکړل؟

**ځواب:** شل اوښان يا (۵۰۰) درهمه.

۷۵: ايا د خديجې رضی الله عنها په ژوند کې رسول الله صلی الله عليه وسلم بل واده کړی؟

**ځواب:** نه.

۷٦: بي بي خديجې رضی الله عنها څو کاله د سول الله صلی الله علیه وسلم سره ژوند وکړ؟

**ځواب:** پنځه ویشت کاله.

۷۷: رسول الله صلی الله علیه وسلم څو کلن وو چې قریش د کعبې د جوړولو لپاره راټول شول؟

**ځواب:** پنځه دیرش(۳۵) کلن وو.

۷۸: قریشو ولې پریکړه وکړه چې کعبه جوړه کړي؟

**ځواب:** ځکه چې په مکه کې سیلاب راغلی وو، نیږدې وو چې کعبه ورانه کړي.

۷۹: د کعبې د جوړلو پرمهال څه پېښه رامنځته شوه؟

**ځواب:** د قریشو ترمنځ د حجرالاسود د ایښودلو په سر جګړه رامنځ ته شوه، چې هر مشر به ویل چې حجرالاسود زه پخپل لاسونو ږدم.

۸۰: په دې جنجال کې ابو امیة بن المغیرة کوم وړاندیز وکړ، چې ټولو ورسره ومانه؟

**ځواب:** هغه وویل: چې سهار مسجد ته لومړنی دا خلیدونکي کس هره فیصله وکړه، هغه به منل کېږي.

۸۱: هغه لومړنی کس څوک وو چې مسجد ته راغی؟

**ځواب:** رسول الله صلی الله علیه وسلم وو.

CamScanner

**۸۲:** رسول الله صلی الله علیه وسلم د جګړې مخنیوی په څه ډول وکړ؟

**ځواب:** رسول الله صلی الله علیه وسلم حجرالاسود پخپل څادر کې کېښوده او د قبیلې مشرانو ته یې وویل: چې د څادر څنډې ونیسئ پورته یې کړئ او خپل ځای ته یې ورسوئ، چې په دې ډول د جګړې مخه ونیول او خلک هم سره رضاء شول.

**۸۳:** له بعثت څخه د مخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم غبرګون د بتانو په وړاندې څنګه وو؟

**ځواب:** له بعثت نه مخکې یي هم له بتانو څخه کرکه درلوده، د بتانو نذرانې یې نه خوړلې، په مراسمو کې چې د بتانو د لمانځنې لپاره څه تیاریدل، په هغی کې یې ګډون نه کاوه.

**۸۴:** له پیغمبرۍ څخه مخکې رسول الله صلی الله علیه وسلم په کومو لقبونو مشهور وو؟

**ځواب:** د صادق او امین په لقبونو.

**۸۵:** د پیغمبرۍ وړاندې کومې نښې رسول الله صلی الله علیه وسلم لیدلې وې.

**ځواب:** چې په لاره به تلو، نو تیږو او ونو به ورباندې سلامونه اچول.

## په رسول الله صلی الله علیه وسلم د وحې پیل

۸۶: وحې څه ته وایي؟

**ځواب**: د الله تعالی حکمونه او کلام چې خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته یې رالیږلی او د بشر د لانښوونې مصدر بلل کیږي، له وحې څخه عبارت ده.

۸۷: کومو اسماني کتابونو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت زیری ورکړی و؟

**ځواب**: تورات او انجیل.

۸۸: لومړنی وحې په کوم ځای کې نازل شوه؟

**ځواب**: د حراء په غار کې.

۸۹: د حراء غار په کوم ځای کې واقع دی؟

**ځواب**: په مکه مکرمه جبل نور غره کې.

۹۰: د وحې پیل په کومه نېټه وشو؟

**ځواب**: په (۶۱۰) میلادي کال د اگسټ په لسمه نېټه چې په قمري حساب سره د رمضان المبارک میاشت وه.

۹۱: لومړنی وحې په کومه ورځ نازله شوې ده؟

**ځواب**: د دوشنبې په ورځ.

CamScanner

۹۲: رسول الله صلی الله علیه وسلم په څو کلنی کې پیغمبر شو؟

**ځواب:** په څلوېښت کلنی کې.

۹۳: هغه ملائک چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به یې وحې راوړله څه نومېده؟

**ځواب:** جبرائیل علیه السلام.

۹۴: ملائکې څوک دي؟

**ځواب:** ملائکې د الله تعالی یواځینی مخلوق دی چې نه نارینه او نه ښځینه دي، گناه نه کوي، شپه او ورځ د الله تعالی عبادت کې لګیا وي او له نور څخه پیدا شوي دي.

۹۵: لومړی کلیمه چې جبرائیل علیه السلام د حراء په غار کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویله څه وه؟

**ځواب:** د (اقرأ) کلیمه وه.

۹۶: په حراء کې چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې وحې راغله د وحې کیسه یې لومړی چاته وکړه؟

**ځواب:** خپلې میرمنې بې بې خدیجې رضی الله عنها ته.

۹۷: رسول الله صلی الله علیه وسلم قرآنکریم پخپله ولې نه لیکه؟

**ځواب:** ځکه چې هغه لیکوونکی نه وو.

۹۸: د خديجې رضى الله عنها غبرګون د هغه په اړه څه و چې په رسول الله صلى الله عليه وسلم په حراء غار کې پيښ شوى وو؟

**ځواب:** ورته يې وويل: چې قسم په الله تعالى چې الله تعالى تا هيڅکله د خفګان سره نه مخامخ کوي.

۹۹: د ورقه بن نوفل غبرګون د هغه په وړاندې څه وو کوم چې په رسول الله صلى الله عليه وسلم د حراء په غار کې پيښ شوى وو ؟

**ځواب:** هغه وويل: چې دا جبرائيل وحې راوړونکى دى، دې به موسى عليه السلام ته هم د الله تعالى له لورې وحې راوړله.

۱۰۰: په رسول الله صلى الله عليه وسلم قرآن کريم په څه ډول نازليده؟

**ځواب:** جبرائيل عليه السلام به راته، رسول الله صلى الله عليه وسلم ته به يې يو ايت يا يو سورة ووايه، هغه به زده کاوه، بيا به د وحې ليکوونکي هغه ليکه.

۱۰۱: په نارينه وو کې لومړى کس څوک و، چې په رسول الله صلى الله عليه وسلم يې ايمان راوړ.

**ځواب:** ابوبکر صديق رضى الله عنه.

CamScanner

۱۰۲: په ښځينه وو کې لومړی چا ايمان راوړ؟

ځواب: بي بي خديجې رضی الله عنها.

۱۰۳: په ماشومانو کې لومړی چا ايمان راوړ؟

ځواب: علي بن ابی طالب رضی الله عنه.

۱۰۴: په غلامانو کې چا لومړی ايمان راوړ؟

ځواب: زيد بن حارثه رضی الله عنه.

۱۰۵: له دې وروسته څه وشول؟

ځواب: خلوېښت ورځې خوا وشا وحې بنده شوه او جبرائيل عليه السلام رانغی.

۱۰۶: وحې ولي بنده شوه؟

ځواب: تر څو الله تعالی په پيغمبر صلی الله عليه وسلم کې د وحې د بيا راتلو سره مينه پيدا کړي او د د شوق ورسره زيات شي.

۱۰۷: د وحې د بندېدو وروسته بيا څه وشول؟

ځواب: بېرته پيل شوه او د سورة مدثر لومړني اياتونه نازل شو.

۱۰۸: د رسول الله صلی الله عليه وسلم د دعوت پړاوونه څو دي؟

ځواب: دوه پړاوونه يې لرل، ۱: پټه بلنه ۲: ښکاره بلنه.

۱۰۹: دواړو بلنو څومره وخت ونیوو.

**ځواب:** پټې بلنې درې کاله او ښکاره بلنې شل کاله دوام وکړ.

۱۱۰: دپټې بلنې په نتیجه کې څومره کسان مسلمانان شول؟

**ځواب:** د (۳۰) او (۴۰) ترمنځ.

۱۱۱: هغه کسان چې لومړني ایمان راوړونکي یا (السابقون الأولون) یاد شوي شمېر یې څو تنه وو؟

**ځواب:** (۱۴۰) تنه څېړنو ښودلي دي.

۱۱۲: رسول الله صلی الله علیه وسلم د پټې بلنې په بهیر کې صحابه چېرته تربیه کول؟

**ځواب:** د صفا غونډۍ ترڅنګ د ارقم بن ابي الارقم په کور کې.

۱۱۳: دکوم ایت په نازلیدو سره ښکاره دعوت شروع شو؟

**ځواب:** د (وانذر عشیرتک الاقربین) ایت په نازلیدو سره.

۱۱۴: کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ښکاره دعوت شروع کړ مشرکینو څه وکړل؟

**ځواب:** رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه ملګرو ته یې سخت ضرر ور ورساوه.

CamScanner

۱۱۵: رسول الله صلى الله عليه وسلم ته به چا ډېر ضرر رساوو؟

**ځواب:** ابوجهل.

۱۱۶: رسول الله صلى الله عليه وسلم د دعوت پيل کې څه ډول خلك اسلام ته رابلل؟

**ځواب:** راز ساتونکي او د باور وړکسان به يې په پټه راغوښتل او د اسلام بلنه به يې ورکوله.

## لومړی هجرت

۱۱۷: هجرت څه ته وايي؟

**ځواب:** په لغت کې بيل والي يا پرېښودو ته وايي، او په اصطلاح کې د الله تعالى د رضا او دين د ساتلو او خپرولو په موخه خپل ځای پرېښودو ته هجرت وايي.

۱۱۸: مسلمانان چې د مکې د مشرکانو له ظلمونو څخه تنگ شول څه يې وکړل؟

**ځواب:** هجرت يې وکړ.

۱۱۹: مسلمانانو لومړی هجرت چېرته وکړ؟

**ځواب:** حبشې ته.

CamScanner

۱۲۰: د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې څومره هجرتونه شوي؟

ځواب: درې هجرتونه، دوه ځلې حبشې ته او یو ځلې مدینې ته.

۱۲۱: لومړی هجرت په کوم کال کې مسلمانانو کړی وو؟

ځواب: د بعثت په پنځم کال د رجب میاشت کې.

۱۲۲: په دې هجرت کې څو تنه مسلمانان وو؟

ځواب: ټول شپاړس تنه وو چې دولس نارینه او څلور ښځې وې.

۱۲۳: کله چې مسلمانانو حبشې ته لومړی هجرت کاوه مشر يې څوک وو؟

ځواب: مشر يې عثمان بن عفان رضی الله تعالی عنه وو.

۱۲۴: حبشې ته په دوهم هجرت کې د مسلمانانو شمېر څو تنه وو؟

ځواب: په دوهم ځل هجرت کې ۸۳ نارینه او اتلس ۱۸ تنه ښځې وې.

۱۲۵: په دې سفر کې د مسلمانانو امیر څوک وو؟

ځواب: جعفر بن ابی طالب رضی الله تعالی عنه.

CamScanner

۱۲۶: د بعثت په شپږم کال کومې غټې پېښې وشوې؟

**ځواب:** حمزه او عمر بن الخطاب رضی الله عنهما مسلمانان شول.

۱۲۷: د چا په مسلمانیدو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم په لوړ غږ د تکبیر ناره وکړله؟

**ځواب:** د عمر فاروق رضی الله عنه

۱۲۸: په بیت الله کې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم لومړي ځل لپاره لمونځ په ښکاره ډول ادا کړ؟

**ځواب:** کله چې عمر او حمزه رضی الله عنهما مسلمانان شول.

۱۲۹: عام الحزن (د غم کال) کوم کال ته وايي؟

**ځواب:** هغه کال ته وايي، چې په هغه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم بي بي خدیجة الکبری رضی الله عنها او تره ابو طالب وفات شول.

۱۳۰: ابو طالب او خدیجة الکبری رضی الله عنها د بعثت په کوم کال وفات شول؟

**ځواب:** د بعثت په لسم (۱۰) کال باندې وفات شول.

CS CamScanner

۱۳۱: د ابو طالب او خديجة الكبرى رضي الله عنها وفات کېدو په رسول الله صلی الله علیه وسلم څه تاثير وکړ؟

**ځواب:** رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې په وفات ډېر سخت غمجن شو.

۱۳۲: بي بي خديجه رضی الله عنها د څو کالو په عمر وفات شوه؟

**ځواب:** د (٦٥) کالو په عمر.

۱۳۳: رسول الله صلی الله علیه وسلم د بي بي خديجې رضی الله عنها له وفات څخه وروسته د کومې بي بي سره واده وکړ؟

**ځواب:** د بي بي سودې رضی الله عنها سره.

۱۳۴: ابو طالب مسلمان شوی و؟

**ځواب:** نه.

## اسراء او معراج

۱۳۵: اسراء څه ته وايي؟

**ځواب:** اسراء د شپې تګ ته وايي او په سيرت کې ترې هدف د رسول الله صلی الله علیه وسلم د شپې له خوا له مکې مکرمې څخه د بيت المقدس په لور تګ ته اسراء ويل کېږي.

CamScanner

۱۳٦: معراج څه ته وايي؟

**ځواب:** معراج پورته ختلو ته وايي او په سيرت کې ترې هدف پورته د اسمان په لور د رسول الله صلی الله عليه وسلم ختل دي.

۱۳۷: رسول الله صلی الله عليه وسلم له مکې تر بيت المقدس او بيا له هغه ځايه اسمان ته په څه شي لاړ؟

**ځواب:** په براق باندې.

۱۳۸: براق څه ته وايي؟

**ځواب:** براق د خره نه لږ غټ او قچر نه لږ کوچنې سپين ځاروی وو چې هر گام يې د سترگو د ليدو په اندازه وو.

۱۳۹: رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ولې امام الانبياء وايي؟

**ځواب:** د معراج په شپه يې ټولو پيغمبرانو ته د جماعت لمونځ امامت کړی دی.

۱۴۰: د اسراء او معراج پېښه کله رامنځ ته شوه؟

**ځواب:** د اسراء پېښه د خديجې رضی الله عنها له مرگ چې د نبوت په لسم کال وو، وروسته مينځ ته راغلې ده.

۱۴۱: په معراج کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم ملگرتيا او لارښوونه چا کوله؟

**ځواب:** جبرائيل عليه السلام.

۱۴۲: رسول الله صلی الله علیه وسلم د معراج په شپه په اسمانونو کې د کومو پیغمبرانو سره ملاقات وکړ؟

**ځواب:** رسول الله صلی الله علیه وسلم د معراج په شپه!

لومړي اسمان کې د ادم علیه السلام، دوهم اسمان کې د عیسی علیه السلام او یحیی علیه السلام سره، دریم اسمان کې د یوسف علیه السلام سره، څلورم اسمان کې د ادریس علیه السلام سره، پنځم اسمان کې د هارون علیه السلام سره، شپږم اسمان کې د موسی علیه السلام سره، اووم اسمان کې د ابراهیم علیه السلام سره ملاقات وکړ.

## بیعت

۱۴۳: د عقبې لومړی بیعت کوم بیعت ته وایي؟

**ځواب:** د حج په موسم کې د نبوت په دولسم کال چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د منی په (عقبة) نومي ځای کې د مدینې د خزرج او اوس قبیلو له (۱۲) کسانو سره ملاقات وکړ او یو بیعت یې ورنه واخیست، دغه بیعت ته د عقبې لومړی بیعت وایي.

۱۴۴: رسول الله صلی الله علیه وسلم د لومړی عقبې له بیعت څخه وروسته کوم کسان مدینې منورې ته ولېږل؟

**ځواب:** مصعب بن عمیر او عبدالله بن ام مکتوم رضی الله عنهما.

CS CamScanner

۱۴۵: د يثرب خلك په كومه عقبه كې مسلمانان شول؟

**ځواب:** په لومړنۍ عقبه كې.

۱۴٦: د عقبې دوهم بيعت په كوم كال ترسره شو؟

**ځواب:** د بعثت په ديارلسم كال.

۱۴۷: د عقبې په دوهم بيعت كې د بيعت كوونكو شمېر څو تنه وو؟

**ځواب:** څه د پاسه اويا تنه.

۱۴۸: د عقبې په تړون كې چې كومې دوه ښځې موجودې وې څه نومېدې؟

**ځواب:** نسيبه بنت كعب او اسماء بنت عمرو.

۱۴۹: په دوهمه عقبه كې لومړی كس څوك وو چې بيعت يې وكړ؟

**ځواب:** اسعد بن زراره رضی الله عنه.

۱۵۰: په مدينه كې د دې تړون د عملي كېدو د څار لپاره څو كسيز كميسون وټاكل شو؟

**ځواب:** په مدينه كې د دې تړون د عملي كېدو د څار لپاره دولس كسيزه كميسون وټاكل شو، چې (۹) تنه يې له خزرج او (۳) تنه يې له اوس قبيلو څخه وو.

۱۵۱: مصعب بن عمیر رضی الله عنه چې کله مدینې ته لاړه د دعوت لپاره د چا کره به اوسېده؟

**ځواب:** د اسعد بن زراره رضی الله عنه کره به اوسېده، او د هغوی امامت یې کاوه.

## مدینې ته هجرت

۱۵۲: مسلمانانو له مکې څخه مدینې ته څه ډول هجرت وکړ؟

**ځواب:** په پټه او د کوچنیو ډلو په څېر به یې هجرت کاوه چې هسې نه قریش د هغوی د هجرت مخنیوی وکړي.

۱۵۳: اولین کس چې د مدینې منورې په لور یې هجرت وکړ څه نومېده؟

**ځواب:** ابوسلمه مخزومي رضی الله عنه.

۱۵۴: رسول الله صلی الله علیه وسلم په کومه نېټه هجرت وکړ؟

**ځواب:** د نبوت په څوارلسم کال د صفرې میاشتې په (۲۷) نېټه د دوشنبې په شپه.

۱۵۵: په دغه سفر کې ورسره څوک ملګری و؟

**ځواب:** ابوبکر صدیق رضی الله عنه.

CamScanner

۱۵٦: رسول الله صلی الله علیه وسلم په کور کې د پردو امانتونو د ادا کولو لپاره څوك پرېښود؟

**ځواب:** علي بن ابي طالب رضی الله عنه.

۱۵۷: کله چې د مدینې خلك د رسول الله صلی الله علیه وسلم له هجرت نه خبر شول څه یې وکړل؟

**ځواب:** هره ورځ به د (حرة) منطقې ته د هغه د استقبال لپاره راتلل او کله به چې غرمه شوه بېرته کورو ته ستنېدل.

۱۵۸: د رسول الله صلی الله علیه وسلم نورې کورنۍ څه وخت هجرت وکړ؟

**ځواب:** درې ورځې وروسته.

۱۵۹: د مدینې منورې نوم د هجرت نه مخکې څه وو؟

**ځواب:** یثرب.

۱٦۰: رسول الله صلی الله علیه وسلم کله مدینې منورې ته ورسیده؟

**ځواب:** د ربیع الاول میاشتې په اتمه چې د (٦۲۲م) کال د سپتمبر له درویشتمې نېټې سره سمون خوري.

۱٦۱: رسول الله صلی الله علیه وسلم په قباء کې د پاتې کېدلو په دوران کې کوم کار ترسره کړ؟

**ځواب:** د قباء مسجد یې جوړ کړ.

۱٦۲: کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې ته ننوت د هغه ځای خلکو څه وکړل؟

**ځواب:** هر چا به د اوښې پړی نیولو او ویل به یې چې دلته پاتې شه! خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: چې اوښه پرېږدی چې چېرته ځي.

۱٦۳: اوښه چېرته کوزه (چو) شوه؟

**ځواب:** د ابوایوب انصاري رضی الله عنه کور مخې ته چې اوس هلته د مسجد نبوي دراوزه ده.

۱٦۴: رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا دلته د چا کره او څومره وخت پاتې شو؟

**ځواب:** همدې ابو ایوب انصاري رضی الله عنه سره پاتې شو تر څو چې د مسجد نبوي ترڅنګ ورته کور جوړ شو.

۱٦۵: کله چې مهاجرین مدینې ته ورسېدل، انصارو څه ډول د هغوی ښه راغلاست ووایه؟

**ځواب:** مهاجرین لا را رسیدلي نه وو، چې انصارو د دوي هرکلي او ښه راغلاست لپاره خپلو منځو کې پچه اچونه کړې وه.

۱٦٦: انصارو د مهاجرینو سره څه رنګه سلوک کول؟

**ځواب:** انصارو به مهاجر له خپلو ورونو څخه غوره ګڼل.

۱٦۷: رسول الله صلی الله علیه وسلم د انصارو او مهاجرو ترمنځ څه ډول اړیکه منځ ته راوړله؟

**ځواب:** د هغوی په منځ کې یې د ورورولی تړون برقرار کړ.

۱٦۸: د انصارو اومهاجرو ترمنځ د دې تړون ترڅنګ بل کوم تړون رامنځ ته شو؟

**ځواب:** د اوس او خزرج قبیلو ترمنځ د کلونو دښمنی پر ځای د ورورولی تړون رامنځ ته شو.

۱٦۹: په مدینه منوره کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مؤذنین څوک وو؟

**ځواب:** بلال بن رباح، عبدالله بن ام مکتوم، ابومحذوره او عمار بن یاسر رضی الله عنهم.

۱۷۰: رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو څومره وخت د بیت المقدس په طرف لمونځ وکړ؟

**ځواب:** شپاړس(۱٦) میاشتې.

۱۷۱: الله تعالی کله مسلمانانو ته د جهاد اجازه ورکړله؟

**ځواب:** کله چې د مکې د خلکو سرکشي خپل حد ته ورسېده.

۱۷۲: جهاد څه وخت فرض شو؟

**ځواب:** د هجرت په لومړي کال.

## غزاګانې او سريې

**۱۷۳: غزا څه ته وايي؟**

**ځواب:** غزا هغه ته وايي، چې د مسلمانانو او کافرانو جګړه ترمنځ شوي وي او محمد صلی الله علیه وسلم پکې ګډون کړی وي.

**۱۷۴: سريه څه ته وايي؟**

**ځواب:** سريه د مجاهدينو هغې ډلې ته وايي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د جهاد لپاره لېږلې وې او خپله يې پکې ګډون نه وي کړی.

**۱۷۵: رسول الله صلی الله علیه وسلم د کافرانو سره ټولې څو غزاګانې کړي دي؟**

**ځواب:** (۲۷) اوو ويشت غزاګانې يې کړي دي.

**۱۷۶: د سريو او غزاګانو ټول شمېر څومره دی؟**

**ځواب:** درې اويا (۷۳)دی.

**۱۷۷: کومې غزاګانې ډېرې مشهورې دي؟**

**ځواب:**۱- د بدر غزا ۲- د احد غزا ۳- د بني نضير غزا ۴- د احزاب (خندق) غزا ۵- د بني قريظه غزا ٦- د خيبر غزا ۷- د مؤته غزا ۸- د مکې د فتحې غزا ۹- د حنين غزا ۱۰- د تبوک غزا.

۱۷۸: د بدر غزا کله واقع شوه؟
**ځواب:** د هجرت په دوهم کال د روژې د مياشتې په (۱۷) نېټه.
۱۷۹: پدې غزا کې د مسلمانانو شمېر څومره وو؟
**ځواب:** (۳۱۳) تنه چې (۸٦) مهاجر او (۲۲۷) يې انصار وو.
۱۸۰: په دې غزا کې د مسلمانانو وسايل او اسباب څه او څومره وو؟
**ځواب:** دوه اسونه او اويا اوښان وو، ځکه چې دوی د جنګ په اراده نه وو تللي.
۱۸۱: په دې غزا کې د کفارو شمېر څو تنه وو؟
**ځواب:** (۱۰۰۰) تنه جنګيالي وو، چې (۱۰۰) اسونه، (٦۰۰) زغرې او بې شمېره اوښان ورسره وو.
۱۸۲: په دې غزا کې د مشرکانو اعلی سر قومندان څوک وو؟
**ځواب:** ابوجهل.
۱۸۳: د احد غزا څه وخت پېښه شوه؟
**ځواب:** د هجرت په دريم کال د ربيع الاول په مياشت کې.
۱۸۴: له احد غزا څخه د مشرکينو موخه څه وه؟
**ځواب:** مشرکينو غوښتل، چې په بدر کې د پېښ شوي زيان غچ واخلي.

۱۸۵: د احد په غزا کې د مسلمانانو شمير څومره وو؟

**ځواب:** (۱۰۰۰) تنه خو وروسته ترې (۳۰۰) تنه منافقان راوګرځېدل.

۱۸۶: په دې غزا کې د مشرکانو شمېر او وسايل څومره وو؟

**ځواب:** (۳۰۰۰) تنه لښکر(۳۰۰۰) اوښان(۲۰۰) اسونه او (۷۰۰) زغرې ورسره وو.

۱۸۷: د احد په غزا کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم غاښ مبارک د چا د لاسه شهيد شو.

**ځواب:** عتبه بن ابي وقاص.

۱۸۸: کله چې د احد په غزا کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم غاښ مبارک شهيد شو او مخ مبارک يې تپي شو څه يې وفرمايل؟

**ځواب:** ويې فرمايل: هغه قوم به څنګه بريالى شي، چې د خپل رسول صلى الله عليه وسلم مخ تپي کړي او غاښ مبارک يې مات کړي.

۱۸۹: د احد په دې غزا کې څومره مسلمانان شهيدان شول؟

**ځواب:** (۷۰) تنه.

CS CamScanner

۱۹۰: د احد په جګړه کې څو مشرکین ووژل شو؟

**ځواب:** په یو روایت کې (۲۲) کسان وژل شوي او په بل روایت کې (۳۷ ) تنه ښودل شوي.

۱۹۱: د بنو نضیر غزا کله واقع شوه؟

**ځواب:** د هجرت په څلورم کال د ربیع الاول میاشت کې چې (٦۳۵) میلادي کال د اګسټ میاشتې سره سمون خوري.

۱۹۲: په دې غزا کې د مسلمانانو بیرغچي څوک وو؟

**ځواب:** علی رضی الله عنه.

۱۹۳: په بنو نضیر کې له یهودو څخه څومره مال لاس ته راغی؟

**ځواب:** (۵۰) زغرې (۵۰) اوسپنیزې خولۍ او (۳۴۰) تورې.

۱۹۴: د خندق غزا کله واقع شوه؟

**ځواب:** د هجرت په پنځم کال د شوال په میاشت کې.

۱۹۵: په دې غزا کې د کفارو شمېر څومره وو؟

**ځواب:** (۱۰۰۰۰) تنه چې (۴۰۰۰) تنه د مکې مشرکان او (٦۰۰۰) تنه د عطفان کافران وو.

۱۹٦: په دې غزا کې د مسلمانانو شمېر څومره وو؟

**ځواب:** (۳۰۰۰) تنه وو.

۱۹۷: رسول صلی الله علیه وسلم ته د خندق کیندلو رایه چا ورکړه؟

**ځواب:** سلمان فارسي رضی الله عنه.

۱۹۸: د احزاب (خندق) په غزا کې د مهاجرینو بیرغ وړونکی څوک و؟

**ځواب:** زید بن حارثه رضی الله عنه

۱۹۹: د احزاب په غزا کې څومره مسلمانان په شهادت ورسیدل؟

**ځواب:** شپږ (٦) کسان په شهادت ورسېدل.

۲۰۰: د احزاب په غزا کې د مشرکینو څومره کسان ووژل شول؟

**ځواب:** لس(۱۰) مشرکین ووژل شول.

۲۰۱: د بني قریظه غزا د هجرت په کوم کال کې واقع شوی ده؟

**ځواب:** د هجرت په پنځم کال د ذی القعدی په میاشت کې واقع شوه.

۲۰۲: د بني قریظه و په غزا کې د مسلمانانو شمېر څومره وه؟

**ځواب:** دري زره (۳۰۰۰) چې شپږ دیرش (۳٦) اسونه هم ورسره وه.

۲۰۳: د بني قريظه و په غزا کې د څومره يهودانو سرونه پرې شول؟

**ځواب:** د څلور سوه (۴۰۰) یا اوه سوه (۷۰۰) یهودانو.

۲۰۴: مسلمانانو کوم شیان له بني قريظه و څخه په غنيمت کې ونیول؟

**ځواب:** پنځلس سوه (۱۵۰۰) توري، دوه زره (۲۰۰۰) نيزې، درې سوه (۳۰۰) زغرې او پنځه سوه (۵۰۰) ډالونه.

۲۰۵: د بني قريظه و په غزا کې څومره مسلمانان په شهادت ورسیدل؟

**ځواب:** په دې غزا کې يواځې يو کس چې خلاد بن سويد رضی الله عنه نوميده په شهادت ورسیده.

۲۰۶: د حديبې سوله کله واقع شو؟

**ځواب:** د هجرت په شپږم (٦) کال د ذوالقعدې په مياشت کې.

۲۰۷: رسول الله صلى الله عليه وسلم د کومو خلکو سره عمرې ته روان شو؟

**ځواب:** د انصارو او مهاجرو سره چې ټول(۱۴۰۰) او يا (۱۵۰۰) کسان وو.

CamScanner

۲۰۸: د خیبر غزا د هجرت په کوم کال کې واقع شوې ده؟

**ځواب**: د هجرت په اووم کال د محرم میاشتې په وروستیو کې.

۲۰۹: د مؤته غزا د هجرت په کوم کال کې واقع شوې؟

**ځواب**: د هجرت په اتم کال د جمادي الاولی په میاشت کې واقع شوې ده.

۲۱۰: د مکې د فتحې غزا د هجرت په کوم کال کې واقع شوې ده؟

**ځواب**: د هجرت په اتم کال د روژې په میاشت کې.

۲۱۱: د مکې فتحې په غزا کې له مشرکینو څخه څومره کسان ووژل شول؟

**ځواب**: دولس (۱۲) کسان.

۲۱۲: په مکه مکرمه کې څو بتان و؟

**ځواب**: درې سوه او شپیته (۳۶۰) بتان.

۲۱۳: د حنین غزا د هجرت په کوم کال کې واقع شوې؟

**ځواب**: د هجرت په اتم کال د شوال د میاشتې په لسمه نېټه.

CamScanner

۲۱۴: د تبوک غزا د هجرت په کوم کال کې واقع شوې ده؟

**ځواب:** د هجرت په نهم کال د رجب په میاشت کې واقع شوېده.

۲۱۵: رسول الله صلی الله علیه وسلم څو حجونه کړي؟

**ځواب:** یوازې یو حج.

۲۱۶: دې ته ولې حجة الوداع وايي؟

**ځواب:** ځکه په دې حج کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خلکو نه مخه ښه واخیسته او وروسته یې بل حج ونه کړ.

۲۱۷: رسول الله صلی الله علیه وسلم حجة الوداع ته کله له مدینې څخه ووت؟

**ځواب:** د ذوالقعدې د میاشتې په (۲٦) نېټه.

۲۱۸: رسول الله صلی الله علیه وسلم کله مکې مکرمې ته ورسېد؟

**ځواب:** د هجرت په لسم کال د ذوالحجې میاشتې په (۴) نېټه.

۲۱۹: کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په عرفات کې خطبه ویله څومره صحابه هلته وو؟

ځواب: (۱۴۵۰۰۰) شاوخوا.

## د رسول الله صلى الله عليه وسلم رحلت

۲۲۰: ولې رسول الله صلى الله عليه وسلم د عرفات په خطبه کې خلکو ته وويل : کېدای شي بيا له تاسو سره مخ نشم؟

ځواب: ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له خپل وفات څخه د وحې په ذريعه خبر شوی و.

۲۲۱: د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وفات کېدو ناروغي کله شروع شوه؟

ځواب: د حج د راتګ نه درې مياشتې وروسته صفر المظفر مياشتې په (۲۹) نېټه.

۲۲۲: د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وفات د پيل مرض څه شی وو؟

ځواب: د سر درد او ورپسې سخته تبه.

۲۲۳: د رسول الله صلى الله عليه وسلم ناروغی څومره دوام وکړ؟

ځواب: (۱۳) يا (۱۴) ورځې.

۲۲۴: د رسول الله صلى الله عليه وسلم ناروغي کله ډېره سخته شوه؟

ځواب: د وفات نه پنيځه ورځې مخکې د چهارشنبې په ورځ.

CamScanner

۲۲۵: رسول الله صلی الله علیه وسلم په جماعت سره اخري د کوم وخت لمونځ صحابه وو ته ورکړ؟

ځواب: د ماسپښین لمونځ.

۲۲۵: د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کې ابوبکر صدیق رضی الله عنه د څو لمونځونو امامت کړی دی؟

ځواب: (۱۷) لمونځونو.

۲۲۶: رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات څخه یوه ورځ وړاندې (یکشنبې) په ورځ کوم کارونه ترسره کړل؟

ځواب: خپل ټول غلامان یې ازاد کړل، پیسې یې خیرات کړې او خپله وسله یې مسلمانانو ته وروبښله.

۲۲۷: د رسول الله صلی الله علیه وسلم وروستی وصیت کوم وو؟

ځواب: لمونځ، لمانځه ته پاملرنه او په خپلو غلامانو لورینه وکړئ.

۲۲۸: د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کې وروستی خبره کومه وه؟

ځواب: اللهم رفیق الاعلی.

۲۲۹: رسول الله صلی الله علیه وسلم کله وفات شو؟

ځواب: د هجرت په یوولسم کال د ربیع الاول میاشتې په (۱۲) نېټه د دوشنبې ورځ غرمه مهال.

CamScanner

۲۳۰: رسول الله صلی الله علیه وسلم د څو کالو په عمر له دنیا څخه رحلت وکړ؟

ځواب: (٦٣) کاله او درې ورځې.

۲۳۱: د رسول الله صلی الله علیه وسلم له رحلت وروسته له تکفین او تجهیز مخکې صحابه کرامو کوم کار وکړ؟

ځواب: ابوبکر صدیق رضی الله عنه یې د خلیفه په حیث وټاکه؟

۲۳۲: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په کومه ورځ او چا غسل ورکړ؟

ځواب: د سه شنبې په ورځ سره د جامو، علی، عباس او د عباس دوه زامنو فضل اوقثم، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ازاد شوي غلام شقرآن، اسامه بن زید او اوس بن خولي رضی الله عنهم.

۲۳۳: د رسول الله صلی الله علیه وسلم کفن مبارک څه ډول وو؟

ځواب: درې سپین یمني خادرونه وو چې په مالوچو اوبدل شوي وو.

CamScanner

۲۳۴: د رسول الله صلى الله عليه وسلم جنازه څه ډول وشوه؟

**ځواب:** د رسول الله صلى الله عليه وسلم مبارک جسد د عائشې رضی الله عنها په کوټه کې ايښودل شوی وو، لس لس تنه به کوټې ته ننوتل او د جنازې لمونځ به يې پرې اداء کاوه لومړی سړو ورپسې ښځو او بيا ماشومانو اداء کړ.

۲۳۵: چا يې امامت وکړ؟

**ځواب:** هيچا هم ونکړ.؟

۲۳۶: د رسول الله قبر چا وکيندلو؟

**ځواب:** ابو طلحه الانصاري رضی الله عنه.

۲۳۷: د رسول الله صلى الله عليه وسلم جسد مبارک چا قبر ته ورښکته کړ؟

**ځواب:** علی، عباس او د عباس دوه زامنو فضل او قثم رضی الله عنهم.

## د رسول الله صلى الله عليه وسلم کورنی ژوند

۲۳۸: رسول الله صلى الله عليه وسلم د څو بيبيانو سره واده کړی وو؟

**ځواب:** له (۱۱) بيبيانو سره.

۲۳۹: نومونه يې واخلئ؟

**ځواب:** خديجه، سوده، عائشه، ام سلمه، حفصه،

زينب بنت جحش، جويريه، ام حبيبه، صفيه، زينب خزيمه او ميمونه رضی الله عنهم.

۲۴۰: د رسول الله صلی الله عليه وسلم په ژوند کې څو بيبيانې وفات شوي دي؟

**ځواب:** (دوه) خديجه رضی الله عنها او زينب بنت خزيمة رضی الله عنها.

۲۴۱: رسول الله صلی الله عليه وسلم څو بيبيانې پېغلې او څو کونډې په نکاح کړې وې؟

**ځواب:** پرته د عائشې رضی الله عنها چې پېغله وه نورې ټولې يې کونډې په نکاح کړې وې.

۲۴۲: له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د خديجې رضی الله عنها کوم اولادونه پيدا شوي و؟

**ځواب:** څلور لورګانې: ۱- زينب رضی الله عنها ۲- ام کلثـوم رضی الله عنها ۳- رقيه رضی الله عنهـا ۴- فاطمـه رضــی الله عنها، او دوه زامن: ۱- قاسم ۲- عبدالله.

۲۴۳: د رسول الله صلی الله عليه وسلم ټول څو اولادونه و؟

**ځواب:** ټول يې اوه اولادونه و چې درې زامن او څلور يې لورګانې وې.

CS CamScanner

۲۴۴: د رسول الله صلی الله علیه وسلم درېم زوی ابراهیم له کومې بي بي څخه زیږېدلی دی؟

**ځواب:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وینځې ماریه قبطیې رضی الله عنها څخه.

۲۴۵: د رسول الله صلی الله علیه وسلم اخلاق څه وو؟

**ځواب:** القرآن الکریم.

۲۴۶: کوم خوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم قرآن کریم ډېر ستایلی دی؟

**ځواب:** اخلاق.

۲۴۷: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خبرو کولو طرز څنګه وو؟

**ځواب:** په درناوي او قلارۍ به يې خبرې کولې.

۲۴۸: د رسول الله صلی الله علیه وسلم طبیعت څه قسم و؟

**ځواب:** نرم طبیعته، خوش اخلاقه، او نېک سیرته وو.

۲۴۹: د خلکو د خبرو په مقابل کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځواب څنګه وو؟

**ځواب:** په مقابل کې به يې شور نه کاوه او نه به يې کومه بده خبره کوله.

۲۵۰: رسول الله صلی الله علیه وسلم به له هر مسکین او فقیر، سره څنګه چلن کاوه؟

**ځواب:** رسول الله صلی الله علیه وسلم به له مسکین او فقیر، بې وسه اوکمزوري سره تر هغې کېناسته، تر څو به يې چې مشکل ور حل کړ.

۲۵۱: د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کې خلکو د هغه د اخلاقو څنګه اظهار کاوه؟

**ځواب:** د هغه پر امانت کارۍ، ریښتینولۍ او صداقت د هغه وخت کافرانو هم اعتراف کاوه.

۲۵۲: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مخ مبارک صفات بیان کړئ؟

**ځواب:** روښانه مخ، ځلیدونکی رنګ، د سپین ګلابي رنګ څښتن او مخ مبارک يې غوښن و.

۲۵۳: د رسول الله صلی الله علیه وسلم پوزه مبارکه څه قسم وه؟

**ځواب:** پوزه مبارکه يې نرۍ لوړه او ښایسته وه.

۲۵۴: د رسول الله صلی الله علیه وسلم، مبارکه ږیره څه قسم وه؟

**ځواب:** ګڼه ږیره يې درلوده، د مرګ د ورځې پورې يې په ږیره او سر کې ټول شل ویښتان نه وو سپین شوي.

**۲۵۵: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارکې څېرې او د بدن کیفیت څه قسم وو ؟**

**ځواب:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک بدن نه ډېر خوار او نه ډېر غوښن وو، برابر وجود یې درلوده نه ډېر ټیټ او نه ډېر جګ و، بلکې درمیانه قد یې درلوده، او اندامونه یې نه ډېر غټ او نه ډېر واړه وو، د هډوکو سرونه یې تندرست او قوي و، د لاسونو ورغوي یې غوښن او پلن و، پوندې مبارکې یې نازکې وې، او د بدن پوستکی مبارک یې ډېر نرم و.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم (۶۳) کلن ژوند د پیل نه تر پای پورې انسانیت ته د ژوند په هره برخه کې د یو مهربان لارښود لري. رسول الله صلی الله علیه وسلم په حقیقت کې د مینې یو حقیقي سمبول و، د هغه په هره وینا او کړنه کې صحابه کرامو او بیا ټول امت ته داسې لارښوونې وې او شته، چې په ټولیز ډول پکې د انسانانو د بریالیتوب راز نغښتی، د هغه هره کړنه کې ځانګړی هدف و، همدا لامل دی چې د هغه مبارک د صورت او سیرت د ځانګړتیاوو په یادونه انسان تل د خوښی احساس کوي.

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد صلی الله علیه وعلی آله وصحبه وسلم.

(پای)